بسم الله الرحمن الرحیم

# <u>پوښتنې ته ځواب</u>

## د روسیې په سوچي کې د پوتین او اردوغان لیدنه
## (ژباړه)

پوښتنه:

د ۲۰۲۱ م کال د سپټمبر پر ۲۹مه د روسیې په سوچي ښار کې د اردوغان او پوتین تر منځ ناسته ترسره شوه. د ترکیې جمهور رییس د لوړپوړي پلاوي په مشرۍ چې د استخباراتو رییس حاکان فیدان او د ولسمشرۍ د اړیکو څانگې رییس فهرتین التان یې ملتیا کوله، په دې ناسته کې د هغه له کوم وزیر پرته گډون وکړ!

دا ناسته په سوچي کې د دواړو جمهور رییسان تر منځ د تړلو دروازو تر شاه د درېیو ساتونو لپاره ترسره شوه او د غونډې په پای کې دواړه مشران خبري کنفرانس ته هم چمتو نه شول او همدارنگه په دې اړه د دواړو ولسمشرانو له خوا کومه اعلامیه هم خپره نه شوه. (سرچینه: شرق الویسټ، ۲۰۲۱م د سپټمبر ۳۰مه) د دغو لیدنو او خبرو اترو پایله او دلیلونه څه کېدایشي؟

ځواب: د دې لپاره چې پوښتنې ته ځواب ووایو، اړتیا ده چې لاندې مسایلو ته کتنه وکړو:

۱- د امریکا لېوالتیا او لومړیتوبونو ته په کتو دا څرگندېږي چې د دغه هېواد هڅې پر چین ورټولې دي. هغه پلان چې امریکا له منځني ختیځ څخه ووځي، په حقیقت کې د چین لپاره ځان خلاصوي. په دې مانا چې په سیمه کې هغه رول ولوبوي چې امریکا یې غوښتنه کوي. دغه پالیسي واک ته د ټرمپ تر رسېدو وړاندې ځارل کېده، چې بیا د امریکا پالیسي تر یوه حده بدله شوه.

امریکا د چین په شاوخوا کې خپل نظامي او سیاسي ځواکونه راټول کړل، نو هڅه یې وکړه چې د ترکیې په څېر خپل ملاتړي هېوادونه او یا هغه هېوادونه چې د امریکا تر امر لاندې دي، د دغه هدف تر لاسه کېدو لپاره وکاروي. دا د هغې پالیسۍ برخه وه چې د ټرمپ ادارې په سوریه، لیبیا، ختیځه مدیترانه او په نورو سیمو کې ترکیې ته د رول لوبولو لپاره ورکړه. ترکیې ته د دغه نوی رول په ورکولو سره امریکا په بشپړه توګه د سوریې د بحران په اړه له فکر کولو څخه ځان بهر کړ او دغه بحران یې ترکیې او روسیې ته پرېښود. په جینوا او استانه کې د ترکیې او روسیې خبرې ګډوډې شوې او ترکیې د سوریې شمال ته خپل پوځ دننه کړ.

۲- دغه رول د بایډن په اداره کې د ډیموکراټانو د سیاسي نظرونو او ملاحظاتو له امله اسانه شو. د امریکا ولسمشر جوبایډن په واشنګټن کې د خپلې پالیسۍ تر اعلان درې میاشتې وروسته د ۲۰۲۱ م کال د اپرېل پر ۲۳مه د ترکیې له جمهور رییس رجب طیب اردوغان سره ټلیفوني خبرې وکړې. په دغو ټلیفوني خبرو کې هوکړه وشوه چې دواړه مشران به د ۲۰۲۱ م کال د جون پر ۱۴مه د ناټو د غونډې په څنډه کې خبرې اترې وکړي. د دوی تر منځ تر لیدنې یوه ورځ وروسته د بایډن اعلان په ښکاره د دوی تر منځ اختلافونه بیان کړل او په ترکیه کې یې د ارمنیانو وژنه نسل وژنه یاده کړه.

په ټوله کې او د پایلې په توګه ویلی شو چې اردوغان او د ترکیې حکومت او نور چارواکي لېونتوب ته نېږدې وو او دا هر څه له رسنیو پټ وساتل شول. کله چې په بروکسل کې د غونډې په څنډه کې د دواړو ولسمشرانو تر منځ د ۲۰۲۱ م کال د جون پر ۱۴مه لیدنه وشوه، دوی له افغانستان څخه پر وتلو هوکړه وکړه او بایډن پر دغه مسله خوښي وښوده. اردوغان تر دې ناستې وروسته وویل چې ده له بایډن سره په افغانستان کې پر حالتو خبرې وکړې او ویې ویل: «موږ په افغانستان کې طالبان همداسې نه پرېږدو او موږ چمتو یو چې له دوی سره په هغه صورت کې معامله وکړ چې د امریکا او نورو هېوادونو ملاتړ راسره وشي.» (سرچینه: سي این این، ۲۰۲۱م، د جون ۱۴مه) خو له دغو څرګندونو ښکاري چې له سوریې څخه د وتلو پر ځای کوم څه ډېر مهم دي، په ځانګړې توګه د وتلو په اړه له روسیې سره د ترکیې د خبرو په رول کې.

۳- اوسمهال له سوریې څخه د وتلو مسله د امریکا لپاره ډېره پېچلې ده، ځکه دا وتل یوازې په امریکا پورې تړاو نه لري. له سوریې څخه د وتلو په مسله کې ایران، ایراني ډلې، ترکیه او تر ټولو مهم هغه د روسیې رول دی، چې پکې شامل دي؛ کوم چې د اوباما او پوتین تر خبرو اترو وروسته سوریې ته د دغو هېوادونو ځواکونه یوړل شول.

دا هر څه ځانګړو اقداماتو ته اړتیا لري. امریکا له سوریې څخه د بشپړ وتلو له مسلې سره مخالفه ده، په ځانګړې توګه له سوریې څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته د روسیې په اړه. امریکا اوسمهال په کردانو کې یو باور رامنځته کړی چې ملاتړ به یې کوي او داسې به یې نه پرېږدي، څنګه یې چې له افغانانو او افغانستان سره وکړل. د سوریې د ډیموکراټو ځواکونو قومندان مظلوم ابدي څرګنده کړه چې د امریکا جمهور رییس له دوی سره ژمنه کړې چې امریکا به په سوریه کې خپل کرد ملاتړي یوازې نه پرېږدي. ابدي د ټایمز په نوم رسنۍ ته وویل، دوی موږ ته ډاډ راکړی چې دا افغانستان نه دی او په سوریه کې د امریکا پالیسي له افغانستان سره بشپړه توپیر لري. (ار ټي، ۲۰۲۱، د سپټمبر ۲۸مه)

۴- امریکا په سوریه کې د روسیې تر پاتې کېدو پورې له دغه هېواد څخه وتل نه غواړي، په ځانګړي ډول کله چې روسیې د امریکا بې پایلې پالیسې پیل کړې وه او چین ته د روسیې پر نېږدې کېدو تمرکز کوي. دا څه د ۲۰۲۱ م کال د جون پر ۱٦مه په جینوا غونډه کې د روسیې او امریکا د ولسمشرانو په ترسره شوې لیدنه کې واضح شول او بایډن خپل سیال ته وویل چې چین ته له نېږدې کېدو لېرې شي او د امریکا دریځ ته ځان نېږدې کړي. که څه هم امریکا پلان درلود چې له سوریې څخه ووځي او د دې مسلې لپاره خپل استازی وټاکي.

پر دې سربېره، دغه حقیقت چې د تل لپاره له سوریې څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وړاندې له دغه هېواد څخه د روسیې د وتلو مسله د امریکا لپاره مهمه ده او خپل استازي ته یې وسپاري، څو دغه تشه ډکه کړي او ځان د چین لپاره وقف کړي، په ورته وخت کې دا نه غواړي چې روسیه په دې څه کې شریکه شي. نو په مستقیم ډول له سوریې څخه د وتلو په تړاو خبرې کول نه و، څو اردوغان ته یې دا ور زده کړه او پوه یې کړ چې په دې مسله کې له ښکېلې دویمې درجې روسیې

سره له سوريې څخه د وتلو په تړاو خبرې وکړي. په ځانګړي ډول کله چې امريکا ډاډمنه شوه چې په سيمه کې د هغې مزدور بشير له نورو هېوادونو سره د امريکا اړيکې او پاليسی ته پرمختګ ورکولی شي. دا تر هغه وروسته پېښ شول چې امريکا د مصر په ګډون د سوډان، سوريې او لبنان ګاز په نښه کړل او امريکا تر هغه پر بشير باور کولی شي، ترڅو چې د هغه پر ځای بل کس پيدا کوي.

پر همدغه اساس، امريکا اردوغان ته دنده ورکړه چې له روسيې سره د وتلو پر مسله خبرې وکړي... اردوغان وويل چې دی به د سپټمبر پر ۲۹مه د روسيې له ولسمشر ويلاډميرپوتين سره ووينې، څو په دوه اړخيزو اړيکو او د سوريې په ادليب ولايت کې پر وروستيو پرمختګونو بحث وکړي. اردوغان په يوه مطبوعاتي بيانيه کې وويل: «له پوتين سره به زما خبرې دوه اړخيزه او له دريېمګړي پرته ترسره شي او دا خبرې به يوازې پر ادليب ولايت محدودې نه وي، بلکې موږ به د سوريې پر عمومي حالت بحث وکړو؛ هغه پړاو چې موږ به يې پيل کړو او پر دوه اړ خيزو اړيکو به هم خبرې وشي. اردوغان څرګنده کړه چې ترکيه او روسيه په سيمه کې محوري هېوادونه دي او زياته يې کړه چې پوتين يو ښه سياستوال دی. همدارنګه نوموړي د ازربايجان ا ارمنيانو مخالفت يوې خواته کولو ته هم اشاره وکړه. (سرچينه، ۲۰۲۱ م کال، د سپټمبر ۲۸مه، ازربايجان نېټ) د ترکيې د استخباراتو رييس حاکان فيدان د روسيې په سوچي ښار کې د اردوغان او پوتين تر ليدنې وړاندې وويل: «د سوريې مسله د دواړو هېوادونو تر منځ په اړيکو پورې تړاو لري، هغه مسله چې دواړه هېوادونه به يې په اړه يوځای اقدام کوي او دواړو ته ارزښت لري. (سرچينه: انادولو اجين سي، ۲۰۲۱، د سپټمبر ۲۹مه)

۵- روسيې هم دا درک کړې او پر دې مسله اندېښمنه ده. د روسيې حکومت د امريکا پر ځای له ترکيې سره له سوريې څخه د ځواکونو وتلو پر مسله مستقيمې خبرې کول سپکاوی بولي. په ځانګړي ډول همدا روسيه وه چې سوريې ته يې د ترکي ځواکونو د استولو زمينه برابره کړه، نو ځکه له ترکيې سره په مستقيم ډول له سوريې څخه د وتلو په تړاو خبرو ته نه چمتو کېږي. روسيه وېره لري چې دا څه هغې ته سپکاوی کول او په ټيټه سترګه ورته د کتلو مانا لري، په ځانګړي ډول چې د روسيې جمهور رييس ويلاډميرپوتين په نړۍ کې امريکا ته د يوې سيالې په سترګه

گوري. نو پر همدغه اساس، دا څه به په ورته وخت کې امریکا ته یو پیغام وي چې بیرته له مسکو سره له سوریې څخه د وتلو پر مسله په مستقیم ډول خبرې کول هم شوني دي.

الف- د روسیې ولسمشر ویلاد میرپوتین مسکو ته د خپل ترکي سیال رجب طیب اردوغان ورتګ ته په کمه سترګه وکتل او د سوچي په هوایې میدان کې یې پر خپل ځای هغه ته د یاد ایالت یو مرستیال ور ولیږه؛ چې له هغه سره ووینې... همدارنګه د روسیې د بهرنیو چارو وزارت چارواکو، په مسکو کې د ترکیې سفیر او نورو چارواکو اردوغان تر هوایي میدان پورې بدرګه کړ. (ننني ترکیه، ۲۰۲۱ م کال د سپټمبر ۲۹مه)

ب- پوتین همدارنګه «پراودا» ورځپاڼې ته ویلي وو چې اردوغان ته سپکاوی وکړي او هغه ته د فقیر سړي خطاب وکړي. معلومه ده چې «پراودا» روسی ورځپاڼه ده چې د شوري اتحاد پر مهال د نړۍ تر ټولو ستره ورځپاڼه وه او اوس هم کرملین ماڼۍ ته نږدې او مشهوره ورځپاڼه یادیږي. د دې ورځپاڼې مدیر مسول الکساندر استروم مخکې تر دې چې اردوغان روسیې ته سفر وکړي، پر هغه یې د الفاظو برید وکړ او د یو فقیر انسان په توګه یې یاد کړ. «ورځپاڼې ویلي وو چې هغه په ټاکنو کې د بیا بریا لپاره چانس نه لري»

٦- پر همدغه اساس، د پوتین او اردوغان لیدنه له سره بیا تر وروستیو له ماتې سره مخ شوه. اردوغان داسې تمه درلوده چې دغه لیدنه به یې له پوتین سره ترسره شي او د ماتېدو په سترګه یې نه ورته کتل او په دې اړه ډاډه و. په همدغه ترتیب، له یادې ناستې څخه مثبتې پایلې تر لاسه نه شوې او حتا په دې اړه مطبوعاتي کنفرانس هم ترسره نه شو. (د روسیې او ترکیې د جمهور رییسانو ناسته په سوچي ښار کې له کومې پایلې پرته پایته ورسېده، درې ساعته یې دوام وکړ، خو دواړو لورو د دې ناستې جزیات په ډاګه نه کړل. د درویش خلیفه په نوم سیاسي شنونکي له العربیه الجدید په نوم رسنۍ سره په مرکه کې وویل: «د دې ناستې د جزیاتو نه څرګندېدل په دې مانا دي چې په کومه برخه کې هوکړه نه ده شوې او تر منځ یې اختلافونه شتون لري.» همدا لامل دی چې د دې ناستې جزیات له رسنیو سره شریک نه شول. د دې ناستې اساسي هدف د سوریې مسله ده او نه دا چې ځینې کسان یې د لیبیا او اوکراین په اړه تبلیغات یادوي.

۸- په پایله کې لاندې موارد شامل دي:

الف: اوسمهال امریکا له منځني ختیځ څخه د ځان ټولولو په هڅه کې ده او غواړي په دې ځای خپل مسولیت هغو کسانو ته وسپاري چې امریکا ته ژمن وي او امریکا په حقیقت کې غواړي چې پر چین هېواد خپل تمرکز ډېر کړي. د دواړو هېوادونو تر منځ به سړه جګړه روانه وي، څنګه چې امریکا پرې تورنه ده. په واشنګټن کې د چین هېواد سفارت ویاند لیو پنګیو د امریکا، انګلیس او استرالیا د یوځایوالي په اړه وویل: «دا هېوادونه باید انحصاري بلاکونه جوړ نه کړي چې د نورو ګټې خپلې موخې وګرځوي او یا هغوی ته زیان ورسوي. دغه اقدام د دې مانا لري چې هغوی سړه جګړه او ایډیولوژیک تعصب غواړي. (سرچینه: الجریزه نټ، ۲۰۲۱م کال د سپټمبر ۱٦مه)

ب: عثماني دولت چې روسیې ته د سر درد پیدا کړ، نور شتون نه لري. پر همدغه اساس روسییه اوس په راحتۍ دمه کاږي او د ترکیې واکمنان ډېر کمزوري دي او هغوی ته هېڅ ارزښت نه لري.

ج: هره پېښه چې رامنځته شوې، یو مثبت ټکی شتون لري او هغه دا چې کفري هېوادونه اوسمهال پخپلو کې ښکېل دي او مسلمان هېوادونه پرېږدي.

نو اوس د دعوت لپاره ښه فرصت رامنځته شوی او که څوک غواړي دغه حقیقت وځاري. پر اسلام دې خوښي وي او د کافرانو زوال غواړو.

**﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾** [ق: ۳۷]

*ژباړه: په دې کې هغو کسانو ته تذکر دی چې د عقل څښتن دي او د زړه په غوږونو واوري، په داسې حال کې چې حاضر دی.*

۱۴۴۳هـ.د صفر ۲۹مه

۲۰۲۱م کال د اکتوبر شپږمه

ژباړه: بهیر «ویاړ»